رفیع الله ستانیکزی ۲۰۱۲/۰۱/۲۹

# د ماشومانو د ژبني مهارت ځواکمنول

د دې پر ځای چې خپل ماشوم ته کیسې ووایاست، له هغوی سره خبرې وکړئ، خپل ماشومان پرېږدئ، چې خپل دننني فکرونه راوسپړي، که څه هم هغه یو څو بې مانا کلمې یا توري هم وي.
ډېری وخت د مور او پلار تر ټولو مهمه دنده او ستره اندېښنه د ماشوم روزنې په برخه کې هغوی ته د ژبني مهارت د ورزده کولو په برخه کې وي. له ژبې ګټه اخیستنه چې د نورې نړۍ سره د اړیکو ساتلو لپاره تر ټولو اغیزمنه وسیله ده او په اوسنۍ نړۍ کې خو هره برخه د ښو او اغیزمنو خبرو اترو ته اړتیا لري او همدارنګه د انسان د بریالیتوب لپاره ډېره مهمه هم ګڼل کیږي؛ نو له همدې لامله باید مور او پلار هماغه د وړکوالي له دورې څخه د ماشوم د دې مهارت په ښه کولو کې فعاله ونډه واخلي او د دې لپاره چې مور وکولای شو، د خپلو ماشومانو د روزنې په برخه کې د هغوی د ښو او اغېزمنو خبرو اترو لپاره مو یو څه کړې وي، یو څو لنډې خو ارزښتمنې لارښوونې باید په پام کې ونیسو.
۱- خپل ماشوم پرېږدئ، چې خبرې وکړي.
ډېری مور او پلار د خپلو ماشومانو له ویده کولو مخکې د هغوی لپاره د ټلویزون ننداره کول، کارتوني فلمونه ننداره کول او یا هغوی ته د شعرونو، کیسو اورول تر بل هرڅه ښه او غوره ګڼي، خو باید دا هم وویل شي، چې یوازې د ماشوم اورېدل نه شي کولای چې د ماشوم د خبرو اترو په اغیزمنتیا کې ښه رول ولوبوي؛ بلکې د ماشوم د خبرو کولو ځواک باید پیاوړی شي، چې هغه یوازې د هغه په خبرو سره موږ کولای شو پیاوړی کړو. د دې موضوع د څېړنې لپاره مې د انټرنټ پاڼې کتلې، چې په یوه انګریزي لیکنه کې مې یو ځای ولوستل، ننني څېړنو دا ښوولې، هغه ماشوم، چې تر ویده کیدو دمخه له خپل مور او پلار سره خبرې کوي او په بیلابیلو مسایلو ورسره بحثونه وکړي تر نورو هغو ماشومانو، چې تر خوب دمخه یوازې ټلویزون، کارتوني فلمونه ننداره کوي او یا هم د مور او پلار له خوا ورته کیسې او شعرونه لوستل کیږي شپږ واره یا شپږ ځله ښې او اغیزمنې خبرې کوي، په داسې حال کې چې زموږ هېواد او په تیره زموږ پښتني ټولنه کې خو هیڅ مور او پلار له خپل ماشوم سره تر ویده کیدو دمخه خبرې هم نه کوي؛ بلکې د شیشکانو، پیشکو او سپیو په یادولو سره یې ډاروي او ویده کوي.
ځکه چې کېدای شي، ماشومان د خبرو کولو پر مهال ځینې کلمې ناسمې ووایي او یا هم له ځینو کلمو یا جملو څخه ناسمه مانا واخلي، مور او پلار کولای شي، چې هغه ناسمې ماناوې په ډېرې مهربانۍ سره ورسمې کړي او د کلمو، تورو یا جملو تلفظ په برخه کې هم ورسره مرسته وکړي. له دې سره به ماشومان نه یوازې کلمې، جملې او د هغوی ماناوې زده کړي، بلکې د جرآت تر اخیستلو سره سره به یې د لغاتو ذخیره هم ډېره شي.
خپلو افغانانو میندو او پلرونو ته دا سپارښتنه کوم، چې د خپل ماشوم وړې ژبې ته زړه تنګی نه شي او هغه پرېږدي، چې خپل زړه کې ټولې خبرې له تاسې سره شریکې کړي، په ځواب کې یې د افرینۍ په نازولو نور هم خبرو کولو ته وهڅوئ.

۲- له ماشومه وغواړئ، چې د بیلابیلو شیانو نومونه واخلي او تلفظ یې کړي.
د ماشوم د ژبني مهارت په پیاوړي کولو کې د بیلابیلو شیانو نوم اخیستنه هم مرسته کوي، تاسې کولای شئ، چې له خپل ماشومه وغواړئ، چې د خپل چاپیریال د شیانو ټول نومونه درته واخلي، د دې لپاره، چې ماشوم هم له تاسې سره ستړی او خسته نه شي او تاسې هم ستړي نه شئ، کولای شئ، چې په ډېرې اسانۍ سره هغوی دېته وهڅوئ، چې په خپل کور کې د ګرځیدو پر مهال ټول هغه شیان چې وینې نومونه یې په لوړ غږ درته ووایي. لکه څنګه چې ماشوم تل په دې مرحله کې ذکي وي او هڅه کوي، چې د ټولو شیانو نومونه زده کړي، ځکه نو مور او پلار هم باید په ډېرې مهربانۍ او مینې سره د خپل ماشوم د پوښتنو ځواب ورکړي او هغوی ته د هغو شیانو نومونه وښیي، چې د هغوی زده نه دي.

۳- د ماشومانو خبرو ته ژر پای مه وربښئ، پرېږدئ چې خپلې خبرې پای ته ورسوي.
که ستاسې ماشوم ډېرې ورو او کراره خبرې کوي، پرېږدئ، چې خپلې خبرې وکړي او د هغه یا هغې د خبرو منځ کې مه لوېږئ او د ماشوم د خبرو بشپړونکی مه اوسئ په ټولې مهربانۍ سره ماشوم ته وخت ورکړئ او د هغه یا هغې ټولې خبرې واورئ. له دې لارې ماشوم کولای شي، چې د خبرو کولو پر مهال له وېرې او ډار څخه هم خلاصون ومومي او همدارنګه به د خبرو کولو اغیزمنه لاره هم زده کړي.

۴- د ټیلیفون له لارې هم کولای شئ ماشوم خبرو کولو ته وهڅوئ


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ټيليفون کارونه هم کولای شي د ماشوم د ژبني مهارت د زده کړې په برخه کې کارنده او اغيزمن رول ولوبوي. ډېرى ماشومان له ټيليفون او د هغه د کارونې سره مينه او ليوالتيا ښيي، مور په ډېرې آسانۍ سره کولای شو، چې ماشوم د ټيليفون له لارې خبرو کولو ته وهڅوو او ځينې وخت که ملګرى يا نږدې خپل زنګ وهي درته، خپل ماشوم پرېږدئ، چې د ټيليفون غوږۍ راواخلي او ځواب يې کړي، ځکه چې په دې کار سره هغه هڅيږي او ځان د کورنۍ د يوه مهم غړي په توګه احساسوي، چې له همدې وړوکوالي ورسره دا احساس پيدا کيږي.

۵- ماشوم ته کلمه يا لغت سم ورزده کړئ.
دا خو ښکاره خبره ده، چې د ماشوم وړه ژبه هر چاته خوندوره وي، په تيره بيا مور او پلار ته خو بيخي ډېره په زړه پورې وي، چې ماشوم يې نوى او تازه په خبرو راغلى وي. کله نا کله نه بلکې ډېرى وخت ماشوم په لومړي ځل يو نوم، تورى، لغت او يا کلمه ناسمه تلفظ کوي او ځينې مور او پلار ورته همدا ناسمې کلمې په بار بار په ناسم ډول تکراروي، چې دا ښه کار نه دى، هغوى بايد ماشوم ته کلمې، توري، لغتونه او جملې په سم ډول تلفظ کړي، ترڅو ماشوم هم وکولای شي هغه په سمه بڼه تلفظ کړي او په سمه مانا يې خپلې حافظې ته وسپاري.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ